امارت اسلامی افغانستان
اداره ملی امادگی مبارزه با حوادث
ریاست اطلاعات و ارتباط عامه



# هفته نامه مدیریت حوادث

۱۷ الی ۲۲ سنبله ۱۴۰۳

## شماره هفتاد و سوم

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست د کډوالۍ نړیوال سازمان له مشرې سره وکتل



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابی په خپل کاری دفتر کې په افغانستان کې د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM) له مشرې تیا مسکان، د بشری مرستو همغږی کونکی عدنان او همکارانو سره یې لیدنه او هر اړخیزې خبرې وکړې.

په دې لیدنه کې محترم الحاج ملا نورالدین ترابی د کډوالۍ نړیوال سازمان مشرې تیا مسکان ته ښه راغلاستوویل او د افغانستان خلکو ته یې د یادې موسسې لخوا ترسره سویو مرستو په اړه یادونه وکړه او زیاته یې کړه...

ادامه در صفحه۲

### له پیښو سره د مبارزې امادګۍ ملي ادارې او داغاخان پراختیایی شبکی ترمنځ دګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک شوه



دپیښو سره دمبارزې ملې ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابی د اغاخان پراختیایی شبکی داجراییه د رئیس نجم الدین"نجم" دیادی شبکی مالی او اداری مدیر میراحمد حیدری او مل پلاوی سره په خپل کاری دفتر کی وکتل...

ادامه در صفحه۲

### له پیښو سره د مبارزې امادګۍ ملي ادارې او دتخنیکی او پراختیایی موسیسې ACTED ترمنځ دګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک شو



دپیښو سره دمبارزې ملې ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابی صاحب او د تخنیکی او پراختیایی موسیسی معاون او سرپرست الکسندرکیبی او مل پلاوی سره په خپل کاری دفتر کی وکتل...

ادامه در صفحه۳

### له پیښو سره دمبارزې د امادګۍ ملي ادارې کار کونکو ته ورکشاپ ورکړل سو



دIOM او UNHCR لخوا له پیښو سره دمبارزې امادګۍ ملی ادارې اداری کارکونکو ته دکلستر په اړه ورکشاپ (پریزنټیشن) دمحمدهاشم نیازی او محمد باقر حیدری لخوا ورکول سو...

ادامه در صفحه ۴

## له پېښو سره د مبارزې ملي ادارې سرپرست د کډوالۍ نړیوال سازمان له مشرې سره وکتل



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابي په خپل کاری دفتر کې په افغانستان کې د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM) له مشرې تیا مسکان، د بشری مرستو همغږی کونکی عدنان او همکارانو سره یې لیدنه او هر اړخیزې خبرې وکړې.

په دې لیدنه کې محترم الحاج ملا نورالدین ترابي د کډوالۍ نړیوال سازمان مشرې تیا مسکان ته ښه راغلاست ووېل او د افغانستان خلکو ته یې د یادې موسسې لخوا ترسره سویو مرستو په اړه یادونه وکړه او زیاته یې کړه چې، اړتیا ده چې د افغانستان اړمنو او زیانمنو خلکو ته د رسېدنې لپاره په ګډه سره کار وکړو او په دی برخه کې لا زیاتې هڅې وکړو.

همدارنګه ښاغلی ترابي صاحب زیاته کړه چې، زما د کار پالیسی داسې ده چې د موسسو لپاره چې د افغانستان خلکو ته مرستې رسوی هغوی ته آسانتیاوې برابرې کړم، د دې ترڅنګ نوموړی له یاد سازمان څخه د موټرو او د ادارې لپاره نورو اړینو وسایلو برابرولو، د خوراکی او غیرخوراکی توکو د ساتنې لپاره د ګدامونو جوړولو او د خیمو غوښتنه وکړه.

ورته مهال د کډوالۍ نړیوال سازمان مشرې تیا مسکان له ښاغلی ترابي صاحب څخه په مننې او قدردانۍ سره ووېل: چې موږ تل زیانمنو ته د رسېدنې لپاره د دې ادارې سره په همغږی کار کړی دی او په راتلونکې کې به هم زیانمنو ته د رسېدنې په برخه کې له یو بل سره همکاری وکړو، او موږ هڅه کوو چې د بېړنیو حالاتو په رامنځته کېدو سره په وخت سره خپلې مرستې ورسوو، همدارنګه نوموړې د اقلیمی بدلون د اغېزو په اړه یادونه وکړه چې د افغانستان خلک د اقلیم د بدلون له امله بېځایه سوې دی او په دی برخه کې خلک مرستو ته اړتیا لری.

همدارنګه تیا مسکان، په راتلونکې کې د دې ادارې د ولایتی ریاستونو د NDMIS برخې ته د کمپیوټرونو ورکولو او د سولری سیسټم جوړولو خبر ورکړ او زیاته یې کړه چې د ګدامونو جوړولو په برخه کې به له ډونرانو سره خبرې وکړو.

په پای کې دواړو لوریو په راتلونکې کې زیانمنو هیوادوالو ته د رسېدنې، وقایوی پروژو پلی کولو او د همکاری او همغږی پر پیاوړی کولو ټینګار وکړ.

## له پیېښو سره د مبارزې امادګۍ ملي ادارې او داغاخان پراختیایی شبکی ترمنځ دګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک شوه



دپیښو سره دمبارزې ملي ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابي د اغاخان پراختیایی شبکی داجرابیه د رئیس نجم الدین"نجم" دیادی شبکی مالی او اداری مدیر میراحمد حیدری او مل پلاوی سره په خپل کاری دفتر کی وکتل.

ترابي صاحب داغاخان پراختایي شبکی اجرایه رئیس نجم الدین"نجم" او مل پلاوی ته دښه راغلاست ترڅنګ وویل چی خوشاله یو چی نن یو داسی تفاهم نامه لاسلیک کوو چی په هغه سره زموږ اولس ته په بیلابیلو برخو کی خدمتونه ترسره کیږی او ددې شبکی د ټول کاری ټیم څخه یی مننه وکړه چی زموږ دزوریدلی اولس سره همکاری کوی.

او دټولو نړیوالو او داخلی موسیساتو څخه یی غوښتنه وکړه چی په طبعی او غیری طبعی پیښو او وقایی په برخه کی زموږ سره همکاره پاته سی او د اولسونو سره مرستی وکړی.

دیادې شبکی اجرایه رئیس نجم الدین نجم اغاخان پراختیایی شبکه یوه لویه پروژه او بنسټ دی او یاده شبکه په بیلابیلو برخو کی لکه صحت زراعت

پوهنه او مخابراتو او استینادی دیوالانو په برخه کې اولس ته خدمت کوو او په یاده پروژه کې ۱۴۰۰۰ زره کارمندان کار کوي.
ښاغلی نجم زیاته کړل چې خوښ یو چې دپیښو پر وړاندی دمبارزې اداره زموږ کارونه بیله ځنډه راته خلاصوی دیادې ادارې دټول کار ټیم څخه یې مننه وکړل او ترڅنګ وویل چې دپیښو سره دمبارزې د ادارې سره باید بیلابیل موسیسات او سازمانونه دطبعی او غیری طبعی پیښو لپاره مرسته وکړی ترڅو افغان اولس پر وخت د یادو مرستو څخه برخمن سی.
دیادې شبکې اجرایه رئیس وویل چې دا پروژه چې
۱۶۸۵۱۳۹ شپاړس لکه پنځه اتیا زره یو سل نهه دیرش امریکایی ډالره په ارزښت به په مرکزی او شمال ختیځو سیمو کې هر اړخیزه مرستی لکه خوراکی توکی؛ د8 دانو استنادی دیوالونو؛ د ۱۰ دانی ګدامونه؛ او دکلی په کچه دریش دانی ټیمونه جوړیږی او یاده پروژه به د۲۰۲۵ کال تر پایه پای ته ورسیږی.
په ورستیو کې داوړه تفاهم نامه لاسلیک سوه او پر ګډو همکاریو ددوام غوښتنه وسوه.

## له پیښو سره د مبارزې امادګۍ ملي اداري او دتخنیکی او پراختیایی موسیسې ACTED ترمنځ دګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک شو



دپیښو سره دمبارزې ملې ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابی صاحب او د تخنیکی او پراختیایی موسیسی معاون او سرپرست الکسندرکیبی او مل پلاوی سره په خپل کاری دفتر کې وکتل.
ترابی صاحب دتخنیکی او پراختیایی موسیسې معاون سرپرست او مل پلاوی ته دښه راغلاست ترڅنګ وویل چې خوښ یو چې نن یو داسی تفاهم نامه لاسلیک کوو چې په هغه سره زموږ اولس ته بیلابیلی مرستی رسول کیږی او دیادی موسیسې د ټول کاری ټیم څخه یې ځانګړی مننه وکړه او وویل چې یادی مرستی باید جاری وساتو ترڅو اولس مو دخدماتو څخه برخمن سی.
او زیاته کړل چې دټولو موسیساتو او سازمانونو څخه مو غوښتنه داده چې د طبعی او غیری طبعی پیښو پر وړاندی مبارزه او وقایې په برخه کې لازمی همکاری وکړی .
دACTED موسیسې معاون الکسندر کیبی هم له پیښو سره دمبارزې امادګۍ ملی ادارې دټولو کارکونکو څخه مننه وکړل چې دپیښو پر وړاندی دمبارزې اداره زموږ کارونه بیله ځنډه راته خلاصوی او ترڅنګ وویل چې دپیښو سره دمبارزې امادکی ملی د ادارې سره باید بیلابیل موسیسات او نړیوال سازمانونه دطبعی او غیری طبعی پیښو په اړه مرستی وکړی.
دیادې موسیسی رئیس وویل چې دا پروژه چې په هرات ننګرهار فاریاب بدخشان بغلان بلخ سرپل تخار کندز کې
۲۱۴۶۲۵۵ یوویشت لکه شپږ څلویښت زره دوه سوه پنځه پنځوس دامریکایی ډالره په ارزښت به بیلابیلو برخو کې زیانمونو سو کورنیو ته پلی کیږی دطبعی پیښو غیرو طبیعو پیښو؛صحت؛زده کړی؛ بې سرپنا کورنیو ته سر پنا جوړول او په بیلابیلو برخو کې خلګو ته خدمتونه کوی او یاده په پروژه به د۲۰۲۵ کال تر پایه دوام وکړی.
په اخر کې د دواړو خواوو له لوزی تفاهم نامه لاسلیک سوه او پر ګډو همکاریو ددوام غوښتنه وسوه.

## له پيښو سره دمبارزې د امادګۍ ملي ادارې کار کونکو ته ورکشاپ ورکړل سو



دIOM او UNHCR لخوا له پيښو سره دمبارزې امادګۍ ملي ادارې اداري کارکونکو ته دکلسټر په اړه ورکشاپ (پريزنټيشن) دمحمدهاشم نيازي او محمد باقر حيدري لخوا ورکول سو.
د IOM دکلسټر معاون محمد هاشم نيازي وويل چې کلسټر دبشردوستانه ارګانو ګروپونه دي چې دنړۍ په سطه ۱۱ کلسټرونه شتون چې دصحت کلسټر؛لوجيستيک کلسټر؛ واش کلسټر؛ تعليم کلسټر او په بيلابيلو برخو کې خدمات کوي او په افغانستان کې په ۲۰۰۸ کال کې دکلسټر سيستم فعاله شو او ۷ کلسټرونه شتون لري چې دبيړنۍ سرپنا او غيرغذايي توکو کلسټر؛ دخوړو دخونديتوب کلسټر؛ دصحت کلسټر؛ دتغذيې کلسټر؛ دساتني کلسټر؛ داوبو او حفظ الصحي کسټر؛او دښووني او روزني کلسټر او په يادوو شو برخو کې افغانانو ته مرستي رسوي.
همدارنګه نيازي دبيړنۍ سرپنا او غير غذايي توکو دکلسټر کليدي دندي وويلي چې خدماتو وړاندي کولو او ياهم دمرستو رسولو په وخت کې دهمکارو موسيساتو ملاتړ کول او ستراتيژيکو تصميم نيولو په اړه بشردوستانه همغږي کوونکی او دهيواد په کچه بشردوستانه ټيم ته خبر ورکول او اضطراري پلان جوړونه يا چمتوالی او زيانمنو خلګ ته حساب ورکول.
دUNHCR دکلسټر معاون محمد باقر حيدري وويل چې دکلسټر مرستي دغير غذايي موادو برابرول دبيړنۍ سرپنا او دسرپناه دترميم اسباب ارزول او برابرول ژمنۍ مرستي دکور دکرايې لپاره نغدي مرسته چې د خلګو سره په يادو برخو کې همکاري  کوي.
همدرانګه حيدري زياته کړل چې ددنړيوالو موسيساتو سربيره ددولتي ارګانو سره په همغږۍ کار کوي چې پکښي د ګډوالو او راستيندونکو چارو وزارت؛دکليو پراختيا او بيا رغوني وزارت؛ دطبيعي پيښو پر وړاندي دمبارزي وزارت؛ دښار او کور جوړوني وزارت؛ راسره همکاره دي.

## ۶۶ سیلاب ځپلو کورنيو په کونړ ولايت کې نغدی مرستې ترلاسه کړې




د کونړ ولايت له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې رياست د IOM موسسې سره په همکارۍ، د یاد ولایت مرکز اسعدآباد او بېلابېلو ولسواليو اړوند ۶۶ کورنيو ته چې د وروستيو بارانونو له او سېلابونو له امله زيانمنې سوې وې، له سروې وروسته نغدی مرستې ووېشلې.
په دې مرستو کې هرې کورنۍ ته ۹۰۰۰ افغانۍ او له يادې جملې ۲۰ کورنيو ته چې کورونه يې په بشپړ ډول ويجاړ سوی و، هرې کورنۍ ته 1 باب خيمه هم ووېشل سوه.

## تدویر ورکشاپ آموزشی برای کارمندان سیستم ملی معلوماتی مدیریت حوادث ریاست‌های آمادگی مبارزه با حوادث زون شمال و شمال شرق در بلخ



براساس هدایت مقام رهبری اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث، ورکشاپ آموزشی هشت روزه جهت ارتقای ظرفیت کارمندان سیستم ملی معلوماتی مدیریت حوادث (NDMIS) ریاست‌های آمادگی مبارزه با حوادث ولایت‌های زون شمال و شمال شرق کشور در مورد سیستم مذکور، امروز در بلخ دایر شد.

محترم مولوی بشیر احمد بشرانی، رئیس آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بلخ، در برنامه افتتاحیه این ورکشاپ، در حالیکه کارمندان اداری آن ریاست نیز حضور داشتند، اشتراک کننده‌گان این ورکشاپ را به حضور در صنف آموزشی بصورت دوامدار تشویق کرده و این برنامه را مفید و موثر در امر مدیریت حوادث توصیف نمود.

## توزیع کمک خوراکی و غیر خوراکی برای متضرران باران و سیلاب‌های اخیر در پنجشیر



ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت پنجشیر برای ۱۲۰ خانواده در ولسوالی عنابه آن ولایت که زمین‌های زراعتی شان از اثر باران و سیلاب‌های اخیر تخریب شده بود کمک خوراکی و غیر خوراکی توزیع کرد.

در این روند برای هر خانواده، ۵۰ کیلو آرد، ۲۵ کیلو برنج، ۵ لیتر روغن، یک کارتن شیر و ۳ تخته کمپل مساعدت شد.

## په لغمان ولایت کې ۱۰۸ زیانمنو کورنیو ته د نغدو پیسو او خیمو وېش



د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري ریاست د IOM موسسې سره په همکارۍ، د یاد ولایت مرکز مهترلام او بېلابېلو ولسوالیو اړوند ۱۰۸ کورنیو ته چې کورونه یې د طبیعي پېښو له امله زیانمن سوي و، له سروې وروسته نغدي پیسې او خیمې ووېشلې.

په دې مرستو کې هرې کورنۍ ته ۹۰۰۰ افغانۍ او له یادې جملې ۳۸ کورنیو ته چې د اوسېدو خونې یې په بشپړ ډول ویجاړې سوې وې، هرې کورنۍ ته ۱ باب خیمه هم ووېشل سوه.

## ۳۲۲ خانواده متضرر از سیلاب‌های اخیر در غزنی کمک خوراکی و غیر خوراکی دریافت کردند




ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت غزنی، برای ۳۲۲ خانواده متضرر از سیلاب‌ها و باران‌های اخیر در ولسوالی‌های ده یک، گیرو، واغظ ، رشیدان و مرکز آن ولایت کمک خوراکی و غیر خوراکی توزیع کرد.
روند توزیع این‌کمک‌ها با حضور معاون مقام آن ولایت، مسوولان محلی و رسانه‌ها آغاز شده و برای هر خانواده مقدار ۱۰۰ کیلو گندم و یک کیت صحی مساعد شد. همچنان برای ۳ خانواده که خانه‌های شان از اثر این حوادث به صورت کلی تخریب شده بود به شمول اقلام فوق یک یک باب خیمه نیز توزیع شد.
در همین حال معاون ولایت غزنی از رسیدگی به موقع ریاست آمادگی مبارزه با حوادث غزنی برای متضرران حوادث تشکری کرده و مسوولان آن ریاست را به ارایه خدمات بیشتر به مردم تشویق کرد.

## تدویر جلسه کمیسیون ولایتی آمادگی مبارزه با حوادث بامیان



تحت ریاست محترم مولوی انس عزیزی، معاون مقام ولایت بامیان و با حضور روئسا و مسولان زیربط ولایتی، جلسه کمیسیون ولایتی آمادگی مبارزه با حوادث آن ولایت برگزار شد.
در این جلسه معاون ولایت درکنار ابراز تشکری از کارکردهای ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بامیان در مورد تعین چهار کمیته رسیدگی به حوادث در حالات اضطرار و سکرتریت این کیمته‌ها و همچنان چگونگی مصرف وجه نقدی که از سوی اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث جهت رسیدگی به متضرران اختصاص داده شده است بحث کرد.
در این جلسه سکرتریت کمیته تامین سرپناه و تهیه خوراک و کمیته توزیع کمک‌ها بدوش ریاست آمادگی مبارزه باحوادث، سکرتریت کمیته محافظت بدوش دفتر کارشناسان مقام ولایت و همچنان سکرتریت کمیته تدفین بدوش ریاست صحت عامه سپرده شد و جهت مصرف وجه نقدی اختصاص یافته به آن ریاست در حالات اضطرار یک کمیته با ترکیب نماینده مقام ولایت، مستوفیت و ریاست آمادگی مبارزه با حوادث تعین شود.

## ۷۵۶ زره او ۶۵۰ افغانۍ ۳۳ زیانمنو کورنیو ته په ننګرهار ولایت کې وویشل سوې




د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې د آمادګۍ ملی اداري ریاست د DRC موسسې سره په همکاری, د یاد ولایت سپین غر ولسوالۍ اړوند ۳۳ کورنیو ته چې د وروستیو طبیعی پېښو له امله زیانمنې سوې وې, له سروې وروسته ۷۵۶ زره او ۶۵۰ افغانۍ ووېشلې.
په دې مرستو کې هرې کورنۍ ته له ۱۰۷۰۰ نه تر ۵۲۹۰۰ افغانۍ ووېشل سوې.

## ۶۴ زیانمنو کورنیو ته په کونړ ولایت کې د نغدو مرستو وېش




د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري ریاست د DRC موسسې سره په همکارۍ، د یاد ولایت مرکز اسعدآباد او بېلابېلو ولسوالیو اړوند ۶۴ کورنیو ته چې د وروستیو طبیعی پېښو له امله زیانمنې سوې وې، له سروې وروسته د یاد ریاست مشر قاری ثابت الله صدیقی او د یادې موسسې استازی په شتون کې نغدی مرستې ووېشلې.
په دې مرستو کې هرې کورنۍ ته ۱۰۸۵۰ افغانۍ ووېشل شوې.

## په پکتیا ولایت کې ۱۳ زیانمنو کورنیو سره نغدی مرستې ترسره سوې



د پکتیا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري ریاست د IRC موسسې سره په همکارۍ د یاد ولایت زرمت, احمدآباد, څمکنۍ او ډنډه پټان ولسوالیو اړوند ۱۳ کورنیو ته چې د وروستیو بارانونو او سېلابونو له امله زیانمنې سوې وې, له سروې وروسته نغدی مرستې ووېشلې.
په دې مرستو کې هرې کورنۍ ۱۱۰۰۰ افغانۍ ترلاسه کړې.

## په خوست ولایت کې د جګړې له امله ۱۸۲ بېځایه سويو کورنيو ته بېړنۍ خوراکی او غیر خوراکی مرستې ووېشل سوې



د خوست له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري رياست, د ياد ولايت اړوند ۱۸۲ کورنيو ته چې د افغانستان اسلامی امارت مجاهدينو او پاکستانی پوځ ترمنځ د دې ولسوالۍ په سرحدی سيمه کې د وروستۍ جګړې له امله بېځايه سوې وې, بېړنۍ خوراکی او غيرخوراکی مرستې ووېشلې.

دغه مرستې چې يادې ولسوالۍ ته لېږدول سوې وې, هرې کورنۍ ته ۵۰ کيلو اوړه, ۲۵ کيلو وريجې, ۵ ليتره غوړي او له يادې جملې ۷۲ کورنيو ته د خوراکی او غيرخوراکی توکو ترڅنګ 1 باب خيمه هم ووېشل سوه.

## ۱۸۹ زره افغانۍ ۲۱ سېلاب ځپلو کورنيو ته په ننګرهار ولايت کې ووېشل سوې



د ننګرهار ولايت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري رياست د IRC موسسې سره په همکارۍ، د ياد ولايت خوګيانی ولسوالۍ اړوند ۲۱ سېلاب ځپلو کورنيو ته له سروې وروسته ۱۸۹ زره افغانۍ ووېشلې.

په دې مرستو کې هرې کورنۍ ۹۰۰۰ افغانۍ ترلاسه کړې.

## په کونړ ولايت کې د ۱۰ زيانمنو کورنيو سره خوراکی مرستې ترسره سوې




د کونړ ولايت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري رياست د WFP موسسې سره په همکارۍ، د ياد ولايت مرکز اسعدآباد او بېلابېلو ولسواليو اړوند ۱۰ کورنيو ته چې د طبيعی پېښو له امله زيانمنې سوې وې، له سروې وروسته خوراکی مرستې ووېشلې.

په دې مرستو کې هرې کورنۍ ته ۱۰۰ کيلو اوړه، ۹.۱ کيلو غوړي، ۱۲.۵ کيلو دالنخود، ۱ کيلو مالګه او انرژی لرونکی چاکلېټ ووېشل شول.

## د احتمالي پېښو له زيانمنو خلکو سره د مرستې لپاره فراه ولايت ته د خوراکی مرستو انتقال



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې د سرپرست په لارښوونه څو ټنه خوراکی مرستې د احتمالی پیښو له زیانمنو خلکو سره د مرستې او خواخوږۍ په موخه فراه ولایت ته ولېږدول سوې.
د یادونې وړ ده چې، په دې مرستو کې اوړه، وریجې او غوړی شامل دی. دغه خوراکی توکی به د یاد ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې ریاست په ګدامونو کې ځېرمه سی ترڅو د اړتیا په وخت کې ترینه ګټه واخیستل سی.

## آنچه باید در باره آبله میمون بدانیم

**پیام ما:**

### ۱ علایم بیماری چیست؟

- درد عضلاتی، تب و لرزه، سر درد ، خستگی دوامدار، تورم غده لنفاوی و خشکی جلدی.

### ۲ چطور انتقال پیدا میکند؟

- تماس با لباس فرد مریض، لمس زخم های شخص مریض، عطسه یا سرفه شخص مبتلا به آبله میمون و تماس مستقیم حین آمیزش جنسی.